# لړلیک


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | لومړي څپرکي د هاضمې سیستم | ۱ |
| ۲ | د هضمي سیستم جوړښت او دندې یې | ۲ |
| ۳ | هضم په خوله کې | ۳–۵ |
| ۴ | مرئ، معده، هضم په معده کې | ۶–۷ |
| ۵ | هضم او جذب په وړو کولمو کې | ۸ |
| ۶ | غټې کولمې، د هضمي سیستم ناروغي | ۹ |
| ۷ | د اپندکس میکروبي کیدل | ۱۰ |
| ۸ | د هضمي سیستم د روغتیا ساتنه(حفظ الصحه) | ۱۰ |
| ۹ | د لومړي څپرکي لنډیز، د لومړي څپرکي پوښتنې | ۱۱–۱۲ |
| ۱۰ | دویم څپرکي تنفسي سیستم | ۱۳ |
| ۱۱ | د تنفسي سیستم جوړښت او دندې | ۱۴–۱۷ |
| ۱۲ | د تنفسي سیستم ځینې ناروغی | ۱۸ |
| ۱۲ | د دویم څپرکي لنډیز، د دویم څپرکي پوښتنې | ۱۹–۲۰ |
| ۱۴ | د دریم څپرکي د وینې د دوران سیستم | ۲۱ |
| ۱۵ | وینه، د وینې اجزاوې | ۲۲–۲۵ |
| ۱۶ | زړه، د زړه جوفونه | ۲۶–۲۸ |
| ۱۷ | لمف | ۲۹ |
| ۱۸ | د وینې د وران ستونزې | ۳۰ |
| ۱۹ | د دریم څپرکي لنډیز، د دریم څپرکي پوښتنې | ۳۱–۳۲ |
| ۲۰ | څلورم څپرکي د اطراحيې سیستم | ۳۳ |
| ۲۱ | د بدن د حجرو ضایعات، د بولي سیستم غړي | ۳۴–۳۶ |
| ۲۲ | د پښتورګو جوړښت | ۳۶–۳۷ |
| ۲۳ | د تشو بولو جوړېدل او د پښتورګو ستونزې | ۳۸ |
| ۲۴ | د پښتورګو د درملنې نوي لارې | ۳۹–۴۰ |
| ۲۵ | د څلورم څپرکي لنډیز، د څلورم څپرکي پوښتنې | ۴۱–۴۲ |
| ۲۶ | پنځم څپرکي د هډوکو او عضلاتو سیستمونه | ۴۳ |
| ۲۷ | سکلیت | ۴۴ |
| ۲۸ | د هډوکو دندې، د هډوکو جوړښت | ۴۵ |
| ۲۹ | د هډوکو ډولونه، غضروف، مفصلونه | ۴۷–۴۹ |
| ۳۰ | سکلیتي ناروغی او زیانونه | ۵۰ |
| ۳۱ | عضلات(غړي) | ۵۱–۵۲ |
| ۳۲ | د عضلاتي فعالیتونو ډولونه | ۵۴–۵۵ |
| ۳۳ | د عضلاتو زیانونه | ۵۶ |
| ۳۴ | د پنځم څپرکي لنډیز، د پنځم څپرکي پوښتنې | ۲۷–۲۸ |
| ۳۵ | شپږم څپرکي عصبي سیستم او حسي غړي | ۵۹ |
| ۳۶ | عصبي سیستم | ۶۰–۶۷ |
| ۳۷ | حسي غړي | ۶۸–۷۶ |


**فعالیت**

له گچ څخه د مغزو یو موډل جوړ کړئ اوله شکل سره سم یې رنګ کړئ.

## مغز


مغز په بدن کې د اطلاعاتو د اخستلو او تفسیرولو اصلي مرکز دی چې د فکر، عاطفې، کړنو، د احساس او حافظې دنده لري. په مغز کې لوی دماغ، کوچنی دماغ او د مغز ساقه شامله کېږي چې د سر په کوپړۍ کې واقع دي.

**لوی دماغ**: دا د مغز ډېره لویه برخه ده چې پرمخ یې زیاتې لوړې او ژورې لیدل کېږي. دماغ د مخې له خوا نه شاخوا ته د یوې لویې ژورې په وسیله په دوو کینو او ښي برخو وېشل شوی دی. په معمول ډول کینه نیمه کره حسي پیغامونه د بدن له ښي برخو څخه اخلي او د هغوی حرکتونه کنټرولوي او برعکس د لوی دماغ ښي نیمه کره د بدن له کینې برخې څخه پیغامونه اخلي او د هغوی حرکتونه کنټرولوي. لوی دماغ د زده کړې، توان، حافظې او ادراک دندې لري.



(۵-۱) انځور د لوی دماغ جوړښت

د خوږ حس کول ډېر مهم دي، ځکه موږ له خطر، جراحت یا ناروغۍ څخه خبروي. د بدن د تودوخې داخلي آخذې د وینې د تودوخې په برخه کې حساسې دي. په سکلیټي عضلوکې میخانیکي آخذې ځای لري او د بدن د مختلفو برخو د عضلو د وضعیت خبر مرکزي عصبي دستګاه ته ورکوي.




(۲-۸) انځور د بدن د پوستکي جوړښت

### فعالیت


**د پوستکي د حساسیت ټاکنول**

**د اړتیا وړ سامان او توکي:** د مقوا کاغذ، سنجاق، خط‌کش او بیاتي.

د مقوا کاغذ د ۱x۳ سانتي مترو په اندازه پرې کړئ. د مقوا په هره پاڼه کې دوه داني سنجاقونه د ۲، ۴، ۸ او ۱۲ملي متره وړاندې چوخ کړئ. د یو ټولګیوال سترګې وتړئ او د یوه یا دواړو سنجاقونو څوکې د هغه د لاس په شا باندې کېږدئ. ترې وپوښتئ چې څو ټکي (یوه یا دوه) حس کوي. په همدې ډول د مقوا څلور واړه سنجاقونه د لاس په شا، ورغوي، د ګوتو څوکو، مټ او اورمېږ باندې کېږدئ او نتیجه یې ثبت کړئ. لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

۱- د پوستکي په آزمېښت شوي ځایونو کې کومه برخه د تماس په مقابل کې ډېر حساسیت لري؟


۲- آیا د ډېر حساسیت پر دلیل پوهېږئ؟



(۲-۹) شکل د مقوا او سنجاقونو ټوټې

**د پوستکي پیوند** (Skin grafting): نن د سختو سوځېدلو له امله، په ځانګړې توګه د مخ په سوځېدوکې، په آسانۍ د ناروغ له پوستکي څخه د پیوند لپاره استفاده کېږي. د بېلګې په ډول د ناروغ

**د سترګو ستونزې**: د عمر له زیاتېدو سره ښايي چې د سترګو عدسيې تياره شي او ورو ورو د سترګو دید کم شي. دې ناروغۍ ته آب مروارید(Cataract) وايي چې د جراحۍ په وسیله عدسیه باسي او د هغه پر ځای مصنوعي عدسیه اچوي. که د سترګو د کرې قطر له اندازې څخه ډېر لوی شي، د لیرې شیانو تصویر د شبکیې په مخ کې جوړېږي، په نتیجه کې شخص نشي کولای چې لیرې شیان په واضح ډول ووینې او د لیرې لیدلو په ناروغۍ اخته وي چې د مقعرو عدسیو عینکو ته اړتیا لري. که د سترګو کره له حده ډېر کوچنۍ وي، د نږدې شیانو تصویر د شبکیې شاته جوړېږي چې شخص نږدې شیان په واضح ډول نشي لیدلای او د نږدې لیدلو په ناروغۍ اخته وي او د محدبو عدسیو عینکو ته اړتیا لري.





(۱۲-۲) انځور الف د سترګو نږدې لیدل
ب- لیرې لیدل او د عینکو په وسیله د هغوی لرې کول

## غوږ

غوږ صوتي موجونه پر عصبي پیغامونو بدلوي او د مغزو د اورېدلو مرکز ته یې لیږدوي. برسېره پر دې د غوږ ځیني برخې د بدن د تعادل په ساتنه کې رول لري. غوږ له دریو برخو یعنې بهرنۍ، منځنۍ او داخلي برخو څخه جوړ شوی دی.

**بهرنۍ غوږ**: په بهرني غوږ کې د غوږ پکې او د هغې مجراوې

**له نطفې څخه تر جنين پورې:** د درېمې اونۍ په پای کې، نطفه ۲ ملي متره اوږدوالی لري او د امنيون (Amnion) په نامه د يوې نازکې پردې په وسيله را تاو شوې وي امينون ديو ډول مايع څخه ډک وي چې د زيان او ضربو څخه د جنين ساتنه په غاړه لري. د پنځمې اونۍ په دوران کې د نامه بند جوړيږي. دنامه بند، جنين د جورې سره نښلوي. په دې مرحله کې، زړه، مغز او نور غړي او د وينې رګونه په جوړېدلو پيل کوي او په چټکۍ سره وده کوي. په پنځمو او شپږمو اونيو کې سترګې او غوږونه جوړيږي، او شوکي نخاع په وده پيل کوي. په شپږمه اونۍ کې کوچنۍ جانبي جوانې ښکاره کيږي. دغه جوانې لاسونه او پښې دي. په نهمه اونۍ کې جنين په ورو او ضعيفو خوځېدلو پيل کوي او د ۱۱ او ۱۲ اونيو ترمنځ څخه وروسته جنين Embryo د (Fetus) په نامه يادېږي. په دیارلسمه اونۍ کې د جنين د مخ بڼه انسان ته ورته والی پيدا کوي. په اتلسمه اونۍ کې د داسې حرکاتو په سر ته رسولو پيل کوي. چې مور هغه حس کوي. تر څلور ويشتمې اونۍ پورې د جنين اوږدوالی د ۲۵ څخه تر ۳۰ سانتي متره پورې رسيږي. د زيږيدنې څخه مخکې، جنين لږ څه رحم ته ښکته راځي او په معموله توګه سر د رحم د غاړې په خواکې ځای نيسي.



(۴-۸) انځور د جنين د ودې پړاوونه

